# د افغانستان اسلامي امارت

## د ازموينو ملي اداره

### د معلول( ړندو او کڼو) نوماندانو د ازموينو اخيستلو کړنلاره

کال:۱۴۰۲ هـ ش/۱۴۴۵هـ ق

# لومړی څپرکی

# عمومي حکمونه

## د وضع منظور

**لومړی ماده:**

دا کړنلاره په ډلییزو ازموینو کې د معلولو وګړو د ګډون ډول تنظیموي.

## موخې

**دوهمه ماده:**

دا کړنلاره د لاندې موخې لرونکې ده:

1. د معلولو وګړو د تعلیمي او تحصیلي حقوقو خوندیتوب.
2. په ډلییزو ازموینو کې د ګډون کوونکو لپاره له هر ډول تبعیض پرته په مساوي ډول د فرصتونو برابرول.

## اصطلاحات

**دریمه ماده:**

په دې کړنلاره کې کارول شوي اصطلاحات لاندې مفاهیم افاده کوي:

3. **معلول:** هغه حقیقي شخص دی چې د فکري، ذهنی، جسمي او حسي اړخه ناتوانه وي.
4. **ړوند:** هغه حقیقي شخص دی چې د لیدلو توانایي په کامله توګه د لاسه ورکړي وي.
5. **کوڼ:** هغه حقیقي شخص دی چې د اوریدلو توانایي په کامله توګه د لاسه ورکړي وي.
6. **د معلول مرستیال:** هغه حقیقي شخص دی چې د ازموینې په صحنه کې د معلول نوماند سره د پوښتنو په لوستلو کې همکاري کوي.

## معلول نوماندان

**څلورمه ماده:**

په دې کړنلاره کې درج معلول نوماندان لاندې برخو ته شامل دي:

1. ړانده نوماندان
2. کاڼه نوماندان

## د تطبیق ساحه

**څلورمه ماده:**

دا کړنلاره په ټولو هغو بلېلیزو ازموینو کې د تطبیق وړ ده چې د معلولو(ړندو او کڼو) نوماندانو لرونکې وي.

## تطبیقوونکې مراجع

**پنځمه ماده:**

د ازموینو ملي اداره، معلول(ړوند او کوڼ) نوماندان او ذیربط بنسټونه ددې کړنلارې تطبیقوونکې مراجع دي.

# دوهم څپرکی

# مکلفیتونه

## ړوند نوماند مکلفیتونه

**شپږمه ماده:**

ړوند نوماند د لاندې مکلفیتونو لرونکی دی:

1. د ازموینو ملي اداري د نافذه اصولو سره سم د نوم لیکنې فورم ډکول او تسلیمول.
2. د ازموینې صحنې ته په ټاکلي وخت حاضرېدل.
3. د ازموینې صحنې د ته د پوښتنو د لوستلو په موخه د شرایطو سره سم د مرستیال راوستل.
4. د نورو هغو مکلفیتونو ترسره کول چې د ازموینو ملي اداري لخوا د اصولو سره سم د نوماند لپاره وضع شوي دي.
5. ړوند نوماند به د خپل مرستیال اړوند معلومات د نوم لیکنې په فورم کې درج کوي.

## ړوند د مرستیال شرایط

**اوومه ماده:**

ددې کړنلارې (۶) ماده کې درج د ړوند نوماند مرستیال د لاندې شرایطو لرونکی دی.

عمر به یې د پنځلسو (۱۵) کلونو څخه زیات نه وي.

د لیکلو او لوستلو مهارتونو لرونکی وي.

زده کړې یې د ښوونځي تر منځنۍ دورې لوړې نه وي.

د ازموینو ملي اداري د نافذه اصولو سره سم به د ازموینې پروسې ممانعتونو ته پابند وي.

**کون نوماند مکلفیتونه**

**اتمه ماده:**

کون نوماند د ټولو هغو مکلفیتونو لرونکی دی چې د ازموینو ملي اداري په تقنیني اسنادو کې تصریح شوي دي.

**د ازموینو ملی اداری مکلفیتونه**

**نهمه ماده:**

د ازموینو ملي اداره به د ازمویني په صحنه کې د روند نوماند د مرستیال لپاره لازم فرصتونه چمتو کوي.

## دریم څپرکی

## متفرقه حکمونه

**تخلفات**

**لسمه ماده:**

د معلول نوماند لخوا ترسره شوي تخلفاتو ته د ازموینو ملي اداري د نافذه اصولو سره سم رسیده ګي کیږي.

**شکایات**

**یوولسمه ماده:**

د معلول نوماند له ازموینو څخه رامنځته شویو شکایاتو ته د ازمویني ملي اداري د نافذه اصولو سره سم رسیده ګي کیږي.

**تعدیل،الغاء**

**دولسمه ماده:**

په دې کړنلاره کې تعدیلات راوستل او الغاء د ازمویني ملي اداري مقام صلاحیتونو څخه دي.

**انفاذ**

**دیارلسمه ماده:**

دا کړنلاره په درې (۳) څپرکو او (۱۳) مادو لرونکې ده چې د ازموینو ملي اداري مقام له توشیح سره سم نافذه ده.

پورتنی کړنلاره د ازموینو ملي اداري رهبري شورا کې د (1445-1-27) (۲) پروتوکول نمبر په اساس تصویب او د اداري د مقام لخوا په (1445-1-29) نېټه توشیح شوه.